محمد داؤد مومند ۲۰۲۰/۰۹/۲۲

# که غبار وی که فرهنگ او که سرور دانش

د ستر احمد شاه بابا نه د سردار داؤد خان تر حکومته پوری، په هیواد کی د ملی تأریخ او ملی مشرانو د سپکاوی دپاره، ځای نه وه.

پدی ادوارو کی د امیر عبدالرحمن خان غوندی استبدادی حکومتونه تیر شوی، د همدی امیر تر مهاله په نړی کی دیموکراسی نه وه، که په انګلیند کی د امیرعبدالرحمن خان په دوره کی د دیموکراسی څه مظاهر څرګند شول، بیا تر سردار محمد هاشم خانه پوری چی هغه هم په استبداد تورن وه او بیا د سردار داؤد خان تر حکومته پوری، افغانستان، نه انګلیند وه، او نه انګلیند کیدای شو.

شاغلی اعظم سیستانی د افغانستان ټولی بد بختی او د ثور د کوتا منشه د هیواد د ۱۹۶۴ اساسی یا بنستیز قانون او د هغی مهال دیموکراسی پوری تړی.

شاغلی سیستانی په افغان جرمن کی وکښل چی د دیموکراسی په مهال د هیواد د خلکو ذهنیت د شوره زار حیثیت درلود، او د هیواد ذهنی شرایط د دیموکراسی دپاره آماده نه وه.

دی پدی عقیده دی چی د سرطان کودتا، بی عیبه او بی نقصه وه او د ثور کودتا د ولادت په برخه کی، د سرطان په کودتا، پره اچول، د دوی په منطق، غیر واقع بینانه ادعا ده.

دا چی د ښاغلی سیستانی ادعا په دی برخه کی، تر کومه حده د واقعیت سره سمون خوری یا نه، دا بحث به پریږدو، ولی د یوه واقعیت نه سترګی نه پټیری، چی که امیر عبدالرحمن خان وه که غازی محمد نادر خان او که سردار محمد هاشم خان، په ټولو دورو کی د هیواد عزت او پت ساتلی او خوندی وه، او له هراته تر بدخشانه پوری د افغان ولس په پرګنو کی د وفاق او وطنداری احساس، محسوس کیده.

که یوه پشتون هزاره جات ته سفر کاوه او که یوه هزاره، ننګرهار ته، دوی دا احساس نه کاوه چی ګوندی، په بیګانه ملک او محیط کی دی.

ځکه د دی هیواد د ملی لیډرانو په دوره کی، د هیواد د ژغورنی او د ملی یو والی بنسټ استحکام وموند.

تأریخ زموږ په ژوند کی ثابته کړه چی د دوه پیړیو په موده کی د پښتنو د مشرانو او حاکمانو ټول مظالم، د جهادی د دوری د غیر پښتنی حکومتونو د چنګیزی او هیټلری نظامونو په څیر مظالمو سره انډول کیدای نشی، او دا پداسی حال کی چی نه ځانله په ټوله نړی کی بلکه زموږ په هیواد کی د محمد ظاهرشاه، د بی ساری دیموکراسی تجربه تیره شوی وه.

آیا د نړی د دیموکراسی په تأریخ کی د شرق نه تر غربه پوری، داسی مثال لیدل شوی چی په عمق کی د ستمی کاذب احساس له مخی، مظاهره چیانو د هیواد د پادشاه چی په نژادی لحاظ پښتون وه، د سپکاوی دپاره د سپی د سر وینتان خریلی او سپی ته یی عینکی په سترګو کړی وی؟

ما یو ځل دری کاله دمخه دلته په امریکه کی، په یوه مجلس کی، صرف د پنجشیر د جنګ سالار نوم واخسته، چی د شورای نظار په غړو باندی اور بل شو، په هره خوا تیلیفونونه شروع شول او زما د بی عزتی دپاره ترتیبات ونیول شول، ولی په مجلس کی حاضرو پښتنو ځوانانو، تر موټره پوری زما مشایعت وکړ.
موږ حتی نیمه پیړۍ وروسته، ددی جنایتکارانو په اړه په امریکه کی چی د نړۍ د دیموکراسی مرکز دی، د څه ویلو حق نلرو، نو اوس انصاف ستاسی په لاس کی دی.
امانی نهضت چی د انګریز په لمسون خنثی شو او بچهٔ سقاو د انګریز په قوت او د هغه انسانیت سوزه سقوی دوره، پر هیواد او ملت حاکمه شوه، د غازی محمد نادر خان په تدبیر او زعامت او نورو ملی قهرمانانو، په ایثار، او پښتنی او افغانی عزم، د دی کرغیرنی دوری کمپله ټوله شوه.
د ملی قهرمانانو په تحرک او قیام کی چی تصادفاً ټول پښتانه افغانان وه، کیدای سی، مختلف عوامل او انګیزی د داسی تحرک وسیله ګرزیدلی وی، خو په دی اتلانو کی داسی مشران، لکه« محمد ګل» هم وه چی د یوه ملی، تفکر په بنا، د ستمیت او ملی ضد، تباه کن سیلاب د مخنوی دپاره، د دی اور د مړه کولو دپاره د ملی مبارزی او د ملی تأریخ د ژغورلو ډګر ته په داسی یوه، شعور، ورودانګی.
دلته ځانله د اقتدار د بیرته لاس راوستلو اندیشنه نه وه، بلکه تر هر څه د مخه د ملی پت اوهویت ژغورنه وه.
ولی میر غلام محمد غبار د تعصب او پښتنو او پښتنو مشرانو ته د بد بینی له مخی« غبار د پښتنو نفوس په هیواد کی څلویښت فیصده ښایی» د پښتنو د مشرانو پسی د نادر نه نیولی تر محمد ګله پوری د کذب، دروغو او اتهاماتو په ادبی اصطلاح، د فردوسی قصیدی لیکلی دی.
د ښاغلی سیستانی دا ادعا، سل په سلو کی سمه ده چی لیکی:« .. حتی چنان مینماید که غبار جلد دوم تأریخ خود را بمنظور انتقام کشی از نادر شاه و خانواده او به نګارش ګرفته است»
غبار د بچه سقو د انسانیت سوزی دوری، ددی دوری د عللو او عواملو د را مینځ ته کیدو او ددی دوری د دوام د نتایجواو دهغه قهرمانانو چی د سقویت د پرزیدو په لیاره کی یی د استقلال د استرداد د معنوی عظمت په اندول، اتل توب ښرګند کړی، هیڅ نه وایی، چنانکه د وزیرستان د زمری جرنیل یار محمد خان وزیری نوم، دده په کتاب کی نشته.
پکار دا وه چی غبار خپل دوهم جلد کتاب، باید په بشپړه توګه، صرف او صرف، د بچه سقو د انسانیت سوزی دوری په همه جانبه تحلیل پوری مختص کړای وی نه د سقوی ضد قهرمانانو او نادر خان نه د انتقام اخستلو په منظور.
غبار د خراسان په مورد کی لیکی:
« خراسان بعد از قرن سوم میلادی که در معنی شرق و مطلع آفتاب است، پیدا شد و از قرن پنجم میلادی تا قرن نزدهم مسیحی در طی یکنیم هزار سال مملکت افغانستان به شمار میرفت»
صدیق فرهنګ هم په همداسی کنجاړه شخوند واهه، غبار او فرهنګ دواړه، په دی اړوند د ستمیانو او سقو پرستانو د تأریخ د پیغمرانو حیثیت لری. د دوی پښتون دشمنی لکه د لمر ښرګنده ده.
نن ورځ د سرور دانش نه چی د پښتنو د مشرانو او تأریخ په مورد کی د فرهنګ او غبار په کنجاړه شخوند وهی، څه ګیله؟
موږ په خپلو لویو لمړی او دوهمه ژبو کی که پښتو ده که دری، کره ویناوی لرو، د مثال په توګه:
د سپی په خوله سیند نه مرداریږی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

یا دا چې:

سپي غپيږي، کاروان تيريږي

وطن بی خاونده دی، ملی حاکمیت نشته ، د ملت کاروان او قافله بی ښاروانه ده، د ولس او هیواد مقدرات د پردو په لاس کی دی، تر څو چی دا حالت پر موږ خپور وی، د داسی غپا، آوازونه به ورخ په ورخ لوړیږی.

ستر افغان شخصیت او مفکر ، علامه عبدالشکور رشاد، د پښتنو د دوه سترو مشرانو یعنی فخر افغان خان عبدالغفار خان او ستر پښتون افغان محمد گل مومند به مورد کی فرمایی:

« محمد گل خان او پاچاخان دواړه اوس په موږ کی نشته، د پښتنو لښکر، بی قافلی شوی دی، او قافله هم سالار نلری، زه گومان کوم، ددی بی سالاری قافلی خطرناکی آینده ته به دا دوه لار ښوونکی  مشران(رح) هیس پاتی وی او په ډیر حسرت سره به دغو پر شلو لارو روانو پښتنو ته گوری.د رشاد د وینا ختم»

نن هماغه خطرناکه توره دوره چی علامه صاحب رشاد یی پیشگویی کړی وه په هیواد او ولس حاوی ده.

نو سیستانی صاحب! اوس زه د چا خبرو ته غوږ و نیسم؟

د ستر مفکر علامه صاحب رشاد، ارشاداتو ته، او که د ضد پښتنی، ستمی عناصرو غپا ته؟

په درناوی



[برای مطالب دیگر این نویسنده ، اینجا کلیک نمائید.]



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com